**AL-AASAR Journal**
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

# "بهير د جمال" كښې طنزيه افكار : يو تحقيقي جاج

# SATIRICAL THOUGHTS IN "BEHIR D JAMAL":AN INVESTIGATIVE REVIEW

**Dr. Shahab ud Din**
Lecturer GDC Juwar
**Dr. Badshah.i.Room**
Associate Professor, Department of Pashto, UOM

**Abstract**

*The tradition of satire in Pashto poetry is ancient and deeply embedded in Pashtun literary culture. Pashtun poets, both consciously and unconsciously, have employed satirical themes to critique societal norms, highlight injustices, and provoke thought among their audience. Satire, distinct from humor or simple jokes, often carries a deeper, more specific purpose aimed at reform and social reconstruction. This tradition has been maintained and further developed by Pashtun poets across generations. Dr. Ali Khel Daryab, a notable contemporary poet, has used satire extensively in his poetry as a tool for social commentary. His book* Baheer de Jamal *serves as a prime example of how satire can be used to address contemporary issues while also reflecting cultural and social concerns. This paper examines the satirical elements in* Baheer de Jamal, *analyzing how Ali's poetic technique not only entertains but also challenges the status quo, urging reflection and change. The study will be beneficial for researchers and literature students, offering insights into the continued relevance of satire in Pashto poetry and its role in shaping societal discourse.*

**Keywords:** Pashto poetry, satire, Pashtun literary culture, Ali, Baheer de Jamal, social commentary, reform, social reconstruction, poetic technique, Pashtun poets, societal norms, cultural concerns, literary tradition, Pashto literature, satire in poetry, contemporary issues.

"بهير د جمال" د ډاکټر علي خېل درياب دويم شعري تخليق دے. چې د اعراف پرنټرز پېښور له خوا په کال 2014ء کښې خپور شوے دے. دا کتاب د شاعرۍ په کتابونو کښې عموماً او د غزل په برخه کښې خصوصاً اضافه ده. زيات تره اشعار ئې عشقيه او جمالياتي رنګ لري. په دې کتاب ډېر سترو پوهانو اروابناد محمدنواز طاهر ريټائرډ ډائريکټر پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور خويشکي، اقبال شاکر، خيام يوسفزي او ورسره ورسره ځار يوسفزي خپل خپل تاثرات ليکلي دي. د کتاب د املا سمولو او د پروف ريډنګ شرف ډاکټر شهاب الدين داود خېل ته حاصل شوے دے. د کتاب ټرون د پروفېسر اباسين يوسفزي په نوم شوے دے. کتاب ټول ټال دوه سوه شپږ دېرش مخونه لري. بېعه ئې دوه سوه روپۍ ده. کمپوزر ئې محمد رياض بټ خېل وال دے او خورونکے ئې همېشه پښتو ادبي ټولنه اماندره مالاکنډ ده. کتاب "بهير د جمال" د "غزل بڼ" نه دولس کاله پس انتخاب شوي شاعري ده. چې بېلا بېل موضوعات لري. د پښتو پښتونولۍ، اخلاقيات، عشقيه مضامين، ترقي پسندۍ او جماليات سره سره يو جوته او ښکاره موضوع د طنزيه شاعرۍ هم ده. طنز په معنی د ټک، پېغور، طعنه، ټک کول په اشاره کنايه کښې چا له پېغور ورکول طعنه ورکول او په ټوقه ټوقه کښې ټک کول[1] راځي. د طنز معنی ټوقه يا د سپکاوي خبره ده. په اردو کښې د طنز معنی طعنه او د رمز سره خبره کول دي. د طنز د تعريف په حواله ډېرو پوهانو او اديبانو د خيالاتو اظهار کړے دے. دلته ترې يو څو تعريفونه وړاندې کول ضروري دي چې طنز معنی او مفهوم واضح او اسان شي.

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

راج کشور د طنز په باب کښي ليکلي دي چې دا د ادب يو صنف دے.

“stair is a genre of literature and sometime graphic and performing arts in which vices, follies, abuses and short comings are held up the ridicule ideally which the intent of shaming individual and society itself into improvement. Although satire is usually meant to be funny its greater purpose is often constructive social criticism using wit as a weapon and as a tool the draw attention to both particular and wider issues in society.[2]

ژباړه: طنز د ادب يو صنف دے دا ځني وخت په ګرافک او پرفارمنګ ارټ کښي دا د بديو، حماقتونو، زيږو او کمزورو رادو ښاره کولو په غرض مخې ته راځي چې پکښې په يو کس پورې په ارادي توګه خصوصاً ملنډه کولي شي د څۀ په نتيجه کښي چې ټولنه مخ په وړاندې تلې شي اګر چې عمومي توګه د طنز مطلب دا دے چې سړے د ملنډې وړ شي ولې د دې لوے مقصد زياتره تعميري او سماجي تنقيد وي دې کښې عقل د ټولني مخصوص او سترو ستونزو پله راګرځول وي چې عقل پکښې د وسلې په توګه استعمال کړے شي.

د طنز په باب کښي ډاکټر درياب داسې ليکلي دي.

"پښتو کښې لکه د نورو څو ګاونډو ژبو د ملنډې دپاره طنز ټکے پکارولے شي. طنز ته په انګريزی کښي "Satire" لفظ استعماليږي. دا لفظ د Stair لاطينی ژبې Saturo lanx نه اخستې شوے دے چې مطلب ئې هغه لوښے دے چې د انواع انواع ميوو نه ډک وي. ولې سړے د دې چې دا معنی ئې د سره د جديد مفاهيمو نه ډېر لرې ښکاري. خو رومیانو نقادانو دا اصطلاح پکار راوستې ده نو وروستو ئې روح بیاموندے دے."[3]

ويبسټر ډکشنري د طنز تعريف داسې ښودلے دے.

“satire: A way of using humor to show that someone or something is foolish, weak, bad etc.”[4]

ژباړه:

"طنز ومزاح د استعمال هغه طريقه ده چې په هغې سره د يو کس يا د کوم څيز حماقت، کمزوري، بدي يا نور څه راڅرګند شي."

خواجه عبدالغفور د طنز په حقله داسې ليکلي دي.

"یہ ایک ایسا فن ہے جو نہایت مشکل اور بے حد خطرناک ہے۔اس میں یہ اندیشہ دیتا ہے۔کہ کہیں وار اور چانہ پڑ جائیں۔یا الٹا نہ ہو جائے۔اسی کے ساتھ ساتھ تلقین کی حقیقت کا کسی کو شان و گمان بھی نہ ہو۔اس فن کے استعمال میں مہارت ضروری ہے۔کہ معاشرتی و سماجی اصطلاح کا ایک مقصد اور ایک ادرش ہوتا ہے۔اور اسی سے زندگی کی قدروں کو بدلنا ہوتا ہے۔طنز نگاری کی بصیرت اگر گہری ہو۔تو چوٹ بھی گہری ہوگی۔ باسیت یا قنوطیت سے اجتناب کرتے ہوئے ایک قسم کا حسن پیدا کرنا ہوتا ہے۔تاکہ ان سب کے مرکب سے ابدی اور لافانی تاثر پیدا ہو۔اور سننے والے اپنی مسکراہٹ نہ چھپا سکیں۔"[5]

پروفیسر افضل رضا د طنز باره کښې داسې ليکلي دي.

"په دې فني دور کښې شعر وادب بس د اخلاقي اقدارو او په روحاني جذباتو د اظهار او ځرګندونې يوه ذريعه ده. ولې د شعر هغه خاوندان زيات ژوندي نومونه لري چا چې د طنز ومزاح په جامه کښې خپل پيغام قوم ته رسولے دے."[6]

د طنز په حواله پروفيسر فضل مير خټک رائے هم نقل کول ضروري دي لکه چې داسې ئې ليکلي دي.

"توقه د طنز معنى ده په يو کس يا يو شي پورې توقې کول تنګول. خو په ادب کښې د ژوند داسې اړخونه چې کرکه او نفرت ترې ولاړيږي يا په معاشره کښې ورته په ښه نظر نۀ شي کتے. په داسې اړخونو او کردارونو ظريفانه تنقيد کول طنز دے. د ادبي طنز دپاره ضروري ده چې په ادبي شکل کښې به وي. د ادب په يو صنفت کښې به وي. ګنې وشتې به ترې جوړې شي. د طنز سره سره لږه مالګه مصالحه د مزاح هم پکار ده چې تريخ والے قابو کوي. خبره عناد او تعصب ته نۀ وي رسول په کار. ځکه د جذباتو واګې د عقل په لاس کښې ورکول په کار دي. طنز د خفګان د نفرت په وجه پيدا کيږي ځکه بې دردي لري."[7]

د دغه پورته تعريفونو په رڼا کښې مونږ وئيلې شو چې په طنزيه شاعرۍ کښې د معاشرې خاميو ته اشاره کولې شي او ورسره اصلاحي تجويزونه هم پېش کولې شي او طنز د ادب يوه داسې ذريعه ده. د څه په مرسته چې د ټولنې د اصلاح او تعمير لارې جوړولې شي او د وګړو معيار پرې اوچتولې شي. په کومه شاعرۍ کښې چې طنز شوې وي هغې ته طنزيه شاعري وئيلے کيږي او يا داسې خبره يا ليک چې په اشار او کنايو کښې پکښې ټک يا ټکونه شوي وي او دغسې شاعرۍ ليکلو والا ته طنزنګار وئيلې شي. طنز نګار هغه ليکوال وي چې په خپلو شعرونو کښې په اشارو کنايو کښې ټکونه او اعتراضونه کوي. طنزنګار چې په څه پورې خاندي نو د هغې نه نفرت هم کوي او په زړۀ کښې د دغه ناوړې کار د بدلون ارمان هم کوي. هم دغه وجه ده چې طنز نګار د معاشرې لوړې ژورې او خامۍ د خپل طنز نخښه جوړوي او په داسې طريقه ئې وړاندې کوي چې لوستونکي ترې مزه هم واخلي او د هغې اصلاح هم اوشي. په پښتو ادب کښې د خوشحال

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

بابا د زمانې نه راواخله تر نن وخته پورې شاعران لګيا دي په قسما قسم طريقو سره طنز کوي. په دغه حواله اجمل خټک داسې ليکلي دي.

"پشتو ادب مطالعہ کرنے سے معلوم ہوتا ہے کہ نظم خوشحال بابا، رحمان بابا کے دور سے لے کر آج تک بہت سے شعراء کے کلام میں طنز موجود ہے اور اس دور یا راحت زاخیلی، لیونے فلسفی عبدالغنی خان بابا اور عبدالاکبر خان اکبر نے اس کو خوب جلادی او نثر میں ہمیں دور جدید سے پہلے دینی، تاریخی اور قصصی تحریروں میں ان کی مثال نہیں ملتی۔ البتہ موجودہ دور کے سب سے بہترین نثار ماسٹر عبدالکریم کا مسلسل مقالہ "نئی دنیا" شررانبار ڈیری کے "بٹری" کے عنوان سے مقالات "داتمانزو کاکاجی" کے نام سے مضامین اور لیونے فلسفی کے دلچسپ بیانات طنز و مزاح کی کامیاب مثالیں ہیں۔"[8]

طنز نګار خپل طنز يوائې د ټولنې د يو عام کس، کردار يا شخصيت پورې محدود نه ساتي بلکې د ادارو، حکومتي چارواکو، معتبرو او لاس لرونکي وګړو پورې ئې دائره کار فراختيا لري. د دغه طنز مقصد صرف دا وي چې اورېدونکي خوشحاله شي او دغه اورېدونکي يا لوستونکي په ډوب سوچ او فکر کښې اخته شي. او دغې په باب کښې د حل کولو کوشش وکړي. ډاکټر علي خېل درياب هم يو سترګور شاعر دے. د کمالونو نه ډکه شاعري ئې کړې ده. د دوي شاعرۍ ته چې اوکتلے شي نو د مزاح مالګه پکښې په نشت حساب ده خو طنز غشي ئې په هر چا ورولي دي. که هغه عامي دے که ملا، که شېخ دے که اند، حاجي دے که زاهد، دکاندار دے که زمیندار، پښتون که سندهي دے، که شاعر دے، که ليکوال دے، که مشر دے، که رهبر او که حکومتي چاروک دے. په دغه حواله ئې د هيڅ قسمه کس شخصيت، اداري يا چارواکو نه ويره ترهه نه ده کړې بلکې چې کومه غلطي کوتاهي يا ناروا ئې ليدلي ده نو د طنز غشي ئې پرې ورسم کړې دي او د اصلاح کوشش ئې کړے دے. په دې "بهير د جمال" کتاب کښې چې کوم شخصيات يا اداري يا وګړي باندې طنز شوے دے د هغې تفصيل داسې پېش کولې شي.

* په سردار، مشر، رهبر او چارواک باندې طنز:

مشر چې روغ وي جوړ وي نو کشران به ارو مرو روغ وي. مشر د کور هم وي. د علاقې هم وي. د ادارې هم وي او د وطن هم. که په دغه ذکر شوو ځايونو کښې مشر خپلو ذمه واريو ته سمه پام لرنه کوي نو ماتحت به هم سم چليږي خو د بده مرغه دلته چې کوم هم مشر جوړ شي هغه بيا چرته سم سم کار نه کوي. ډاکټر درياب هم بحيثيت طنز نګار د دغه مشرانو غلطۍ، خامۍ او کوتاهۍ د طنز نخښنه کړې دي او د اصلاح کوشش ئې کړے دے. لکه داسې

"په ربا ورځ که لوټ کېږو څه حېرت دے
چې رهبر زمونږ رهزن دے په کارون کښې"[9]

د طنزنګار کمال دا دے چې نه صرف عام خلق بلکې خواص ئې هم د طنز ښکار ګرځولې دي او د هغوي ناورۍ او تباهۍ ئې په ډاګه کړې دي لکه دا اشعار.

"مونږ سيزي په پردو تبلو کښې دريابه
په دريغ د تقريرونو نمائش دے"[10]

يا دا شعر:

"مشران جامې اوباسي له اولسه
خدايه دا په څه وختونو کښې راګېر يو"[11]

سياسي مشران صرف خپل غرض په مخه راخستې وي. هغوي صرف خپل مفاد ګوري. د اولس، خاورې او قام ورسره هيڅ فکر نه وي. د دې اولس په سر پېسې اخلي د دوي د سر سودا کوي په دغه ئې داسې طنز کړے دے.

"د دې خاورې ښه کېدل د خوب ليدل دي
مشران ئې د ډالرو په نيلام ځي"[12]

داسې ښکاري چې يا خو په پښتنو کښې غيرت ختم شوے دے او يا مشران ئې داسې منتخب کړي دي چې بې کاره دي.

"دا زمونږ د مشرانو ديوسې ده
که زمونږ د غېرتونو نمائش دے"[13]

خو پښتنو سره خپلو مشرانو داسې ناروا راخستې ده چې د دوي په حيا شرافت او ښه سرېتوب پورې ئې پشاړې اوکړې.

"هغوي به نور په مونږه څه د دې دپاسه کوي
هغوي زمونږه د حيا په مخ تغمې اوکړلې"[14]

دلته چې کوم مشران دي هغوي اول ډېرې اوچتې اوچتې او د دروغو لافې کوي خو چې کله ورله څه په اختيار کښې راشي نو بيا د خلقو د ضميرونو سوداګانې کوي. دغه طنز ئې ډېر اعلی راوړے دے.

"د دې وطن د کوم يو مشر سرېتوب اوژاړم
ټول ښه په نره خرڅوي د ضميرونو جامې"[15]

مشري ډېره هوښيارتيا، زيرک توب او پوهه غواړي. د مشرۍ له پاره دستار بطور عزت مشرانو ته په سر کولې شي. دستار، شمله، پټکے د عزت، دروندالي او مشرۍ علامت دے. ستر خوشحال بابا هم وئيلي دي چې دستار خو ډېر خلقو په سر کړے دے خو د دستار تړل د هر چا کار نه دے دستار به هغه سړي ته په سر تړلے شي چې هغه د دغې قابل او جوګه وي خوشحال هم په دغو خلقو داسې طنز کړے دے.

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي"[16]

هم دغه رنګ ډاکټر درياب هم وائي چې په نن زمانه کښې د دستار تړلو د معيار په تله هيڅ څوک هم پوره نه خېژي لکه دا شعر.

"سر د دستار پکښې دريابه نشته
چې مې نظر په لر او بر اوکړلو"[17]

دغه رنګ په دې شعري مجموعه کښې نور هم بلها اشعار شتون لري چې په هغه په سياسي وګړو، مشرانو، رهبرانو او چارواکو ئې د طنز غشي ورولي دي چې د اولس د سر سودا کوي او يا د اولس په سر سوداګاني کوي يو څو اشعار په دغه ترڅ نور کښې اوګورئ.

"دريابه مونږه اقتداء د مشرانو اوکړه
مونږ هم په شا د خپل ضمير لاشونه اوګرځول"[18]

* په پښتنو وګړو طنز:

پښتون په دنيا کښې د غيرت، پت، توري، مينې، ننګ او وفا علامت ګڼلے شي پښتون که هر چرته وي نو هغه به وعده پال وي. حياء ناک به وي. غيرتي به وي. امانت ګر به وي. په ننګ او ناموس نه به قربان وي. پښتون چې يو ځلې يوه خبره اوکړي که بيا ئې پکښې هر څومره زيان وي خو واپس کيږي به نه لکه څنګه چې عبدالرحيم روغاني بابا وئيلي دي.

"چې څنګه به خپل نن ته خپل پرون نه کړي واپس
هم داسې به د خپلې نه پښتون نه کړي واپس"[19]

پښتون، پشتون، د پښتنو د نسل نه، د پښتون قام يو سړے، غيرتي د ننګ او پت خاوند، د پښتو خاوند ضدي[20] به په وي قول او بول کښې به ئې تضاد نه وي. چې يو ځل خبره اوکړي نو مرګ به قبول کړي خو وعده خلاف به نه شي لکه حميد بابا چې وئيلي دي.

"قول او بول په ژوندون نه شي نورولې
ځکه ځان په قول وژني پښتانهٔ"[21]

په دغه ترڅ کښې د ډاکټر اباسين يوسفزي هم ډېر ښکلے شعر رياد شولو چې

"ټوټې ټوټې شي دړې وړې شي خو ننګ نه پرېږدي
نه ښکته کيږي په يو حال کښې پښتانه سرونه"[22]

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

هم دغسي ده چې پښتون به د ننګ او پت نه ډک وي. او د پښتون مثال هم ټولې نړۍ منلے دے پښتون په هر میدان ګټه کړې ده خو افسوس د نن دور پښتون په نورو نورو سر شوے دے. ډاکټر دریاب په "بهیر د جمال" کښې د نن دور په پښتون باندې طنز کړے دے ولې چې پښتون به په هر ډګر کښې تر ټولو وړاندې وي خو افسوس پښتون په داسې ناوړه کارونو کښې بوخت شولو چې ځان ئې د پښتو نه ترلې ے.

"د ژوندون د بقا زغل دے په نړۍ کښې
مونږه ژوند د پښتو ترلې یو پراته یو"[23]

یا د دغې غزل یو بل شعر نه هم دغه خبره راجوتېږي چې مونږ د جمود ښکار شوي یو.

"مونږ به چرته هم دریابه پورته نه شو
چې بدبخته بیخ وتلي یُو پراته یو"[24]

د دنیا ټول قامونه لګیا دي په خپلو بچو تعلیمونه کوي د پر مختګ په لور زغل کوي خو پښتون دغه طرف ته هیڅ سوچ او فکر نه دے کړې.

"چرته مونږ په ژوند کښې یو ځلې سوچ کړې
چې دا نور قامونه څه کوي مونږ څه کړو"[25]

یا دا شعر چې د طنز سره پکښې پېغور هم ورکړې شوے دے. پښتون د غفلت په ابدي خوب اوده ښکاري.

"درز غوبل د ترقۍ دے په نړۍ کښې
دا پښتون خدایه په خنګ خوب اوده دے"[26]

پښتون قام د ټوپک سره اشنائي لري او د سبق سره ئې ستره دشمني ده. هغه د پښتو یوه ټپه ده چې
"قلم راواخلئ ټوپک کېږدئ
چې د دنیا سره قدم په قدم ځو نه" [27]

هم دغه خبره سل په سل ټیک ده. چې پښتون په صدو شا ته لاړو. د شرونو شاتارونو نه اوزګار نه شولو په ځان پسې ئې لښکرې وکړلې د معمولي او وړې خبرې نه شاتار جوړ کړې او خبره د یو کس نه پوره خاندان پورې اورسي او بیا نه ختمېدونکي سلسله روانه شي دغه اشعار ئې وګورئ چې څومره په خوږه خوږه کښې طنز ئې کړے دے.

"په صدو په شا ته لاړو پښتانه د نورو خلقو
ترقي به خنګه اوکړي په شرونو په شاتار کښې"[28]

یا دا شعر:

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"مونږ د ژوند په زغل کښې پاتې شو مونږ نه شو تللے
ګنې دنیا خو مونږ ته ځاې په ځاې دمې اوکړلې"[29]

یا دا شعر:

"مونږ به په دې خبره څوک پوهوې
چې څوک په ځان پسې لښکر نه کوې"[30]

پښتون په یوه پوهېږي. پښتون ساده دے. هوښیار به نه شي هر طرف نه ورته خنډونه جوړېږي. اکثر دوو کسانو په مېنځ کښې خلاصې کوي نو په خپله پکښې وهل اوخوري یا د پښتون باره کښې داسې هم مشهوره ده چې پردے جنګ په ببعه اخلي هم دغه رنګ ډاکټر درياب په دغو ټولو کارونو نیوکې کړې دي او طنز ئې پرې داسې راوړے دے.

"خومره مظلوم خومره ساده یو مونږه
چې په پردي غوبل کښې دل شو یاره"[31]

کله چې په دې صوبه کښې د ترهه ګرۍ اور شورو شوې وۀ نو هیڅ بې هیڅه پکښې دوي لکه ما مه شمېره درګېږ یم ورداخل شولو. بې تپوسه مرګ ژوبلې د پښتنو اوشوې بلها پښتانه کډه په سر شول ډېر خلق بې ګناه مړۀ شول په لارو کوڅو کښې لاشونه پراته وۀ خو څوک خبر نه شول چې دا ولې او په څه د دې دومره هر څه باوجود دوي هوښیار نه شول.

"د هوس کارغانو اوکړې پرې اخترې
پښتانه مرې د لاشونو نمائش دے"[32]

پښتون که هر څومره بهادر، غېرتي او خواري کښ قام یاد شوے دے خو چې کله نه د سوشل میډیا دور راغلے دے نو دوي د کار نه لاس په سر شوي دي د ځان نه ئې تیار خوارۀ جوړ کړي دي. د جمود ښکار شوي دي خوبولي دي په حرکت کښې نه راځي د حرکت او بدلون سره ئې ستره دشمني خپله کړې ده دغه ټول ناوړه کارونو باندې ئې د طنز نیوکې کړې دي.

"نورو خلقو د رڼا نمرونه راوړل
پښتانه لا خوبولي یو پراتۀ یو"[33]

یا دا شعر:

"له حرکته پریوتلي یو پراتۀ یو
مونږ جمود راپرځولي یو پراته یو"[34]

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

یا دا شعر:

"مونږ د وخت منجوران تیار خوارۀ یو
تل چې بل ته لاس نیولي یو پراته یو"[35]

یا دا ئي هم څومره په اسانه طریقه طنز کړے دے د طنز د ټولو عام او اسان طنز ته هوریټین وئیلے شي چې اکثر پکښې ملنډې کیږي. د دې باره کښې ډاکټر علي خېل درياب داسې لیکلي دي.

"د طنز د ټولو نه عام قسم غالباً هوریټین (Horation) طنز دے. په یو سړي یا پېښې پورې د ملنډې دپاره دا قسمه طنز پکارولي شي. مقصد ئې دا وي چې په کوم څیز طنز کولې شي په هغې کښې بهتري راپېدا کړې شي. دا رنګه طنز عموماً په پېروډي کښې مخې ته راځي دا رنګه طنز کله کله په ټولنه هم کولې شي."[36]

هم دغه شان ډېر اسان طنز ئې په پښتنو کړې دے چې بنده له پرې خندا هم ورځي او څه ترې زده کېدې هم شي.

"دا مونږه پښتانه یو چې په ځاے باندې ولاړ یو
دریابه نوره ټوله زمانه اوخوځیده"[37]

د پښتون که هر رنګه تربیت اوشي خو دې وران شوے دے سمیږي نه. د پښتنو مثال ئې د هغه ورانو وینښتۀ سره ورکړے دے چې سمېدل ئې ناشوني دہ دغه طنز اوګورئ.

"لکه زمونږ د پښتنو به ورانېدل په مخه
دریابه څومره چې وینښته به سمول لېونی"[38]

د پښتون مزاج هم عجیبه دے څوک ئې په طبیعت نه پوهیږي کله کله د بنده نه ټول ځاریږي کله کله د بل له پاره شر هم ه خپل سر واخلي خو کله کله ه نه خبره دومره اور واخلي چې هر څه ختم کړي ولې چې ډېر غصه ناک دے تادي ګرندے دے ځکه خو اکثر داسې کارونه اوکړي چې د خر ترې طمع اوشي لکه دا دوه شعرونه.

"کله سړے په سر ګرځئ کله پرې سر ګرځوي
د پښتنو په طبیعتونو باندې پوهه نه شوم"[39]

یا دا شعر:

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"مونږ پښتنو څه لاحاصله غونډې هځې اوکړې
مونږه په باران پسې پټې فصلونه اوګرځول"[40]

که د نړۍ په ټولو قامونو کښې پښتون نر دے ننګیالے دے ځان له خپل روایات لري اقدار لري پښتو پښتونولي لري خو اوس یو داسې وخت راغلے دے چې نوے نسل ئې د تباهۍ په لور روان دے خپل اقدار ئې هېر کړي دي. خپله شمله ئې په زمکه غورځولې ده. تشخص ئې بائللے دے. د شملې بت ئې کوږ شوے دے او نور قامونه ئې په ځان پسې خندولي دي. په دغه ټولو نیوکو ئې طنز کړے دے. لکه دا

"تشخص د هغه قام به څنګ په ځاې وي
چې د خپلو پښو ئې لاندې روایات شي"[41]

یا دا شعر:

"چې ولاړه اډانه پرې د پښتو وه
د پښتون د شملې تلے هغه بت دے"[42]

په اوسنې ځوانانو ئې هم د طنز غشي ورولي دي چې بربت ئې خرېلي دي د نر او ښځې هیڅ توپیر نشته.

"بربت پښتنو له ویخه اوخرول
اوس به کۀ خبر وي ځان له لنګ اخلي"[43]

په دغه حواله د ډاکټر اباسین یوسفزي شعر هم د دغې خبرې دلالت کوي چې نن د بکرې او زلمي هیڅ توپیر نه کیږي.

"پیچوکے نه کمسۍ شته نه شمله نه ږیره بربت
دا څه اوشو د پېغلو او زلمو رنګونه یو دي"[44]

که په پښتون سرۍ پښتون وګړي او پښتون زلمي ئې د طنز باران کړے دے نو پښتنې پېغلې ئې هم د طنز په نخښنه کښې ګېرې کړې دي لکه دا طنز اوګورئ

"پښتنه چې په نرو جامو کښې وینم
لکه اور چې لګېدلے په بهار وي"[45]

په دغه ترڅ کښې د اقبال شاکر شعر هم د دغه طنز په حواله ډېر خوندور دے چې په اوسنو جونو ئې راوړے دے.

"اوسونو جونو په ځان داسي کاني کړي دي
لکه چي مشره خور د کشري خور جامي واغوندي "[46]

پښتو که د پښتنو مورنۍ ژبه ده خوبونه هم په مورنۍ ژبه کښيويني. سوال وځواب، اخستل خرڅول، غم ښادي، دعا لاس نيوه، د روغ رنځور تپوس پوښتنه، راشه درشه، مېلمه ته هرکلے، دعاګاني او نور ټول کړۀ وړۀ ئي په مورنۍ ژبه کښي کيږي خو بيا هم پښتو ژبي ته سپک ګوري خپله ژبه هېرول ډېر بې عزتي ده ډاکټر درياب په هغه ټولو پښتنو د طنز ګوزارونه د شعر په ژبه کړي دي چي خپلي ژبي ته ئي پاملرنه نه ده کړي په دغه ترڅ کښي يو څه اشعار اوګورئ.

"پښتانه به خپلي ژبي پله راشي
دا خو طمع ده د پئيو له غوايانو"[47]

يا دا شعر:

"دا مونږ پښتو پرېښي ده
دا چي بې ډهنګه دے ژوند"[48]

يا دا شعر:

"هسي پري ستا خرمن پرته ده پښتو
نوره خو ته د پښتنو لاړي"[49]

يا دا شعر:

"پښتانه پښتو ته سپک ګوري دريابه
دا خو څکه داسي ورک دي داسي سپک دي"[50]

يا دا شعر:

"خپله ژبه او تهذيب ئي دے هېر کړے
د پښتنون بابا بچي وهلے لنګ دے"[51]

* په مالدارو، ارذال او زردارو باندي طنز:

دلته چي کوم خلق بره ناست دي په لاس کښي ئي لږ اختيار وي که د هغه لږ هم وس رسي نو د ماتحت سره ظلمونه کوي. مالداره د غريب سره، خان د دهقان سره او دغسي زردار د بې وزله سره ظلم کوي. د غريب ناتوانه او کمزوري نه ئي د لوبو ګډاګي جوړ کړي دي لوبوي ئي. په دغه مالدارو ارذالو او زردارو

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

باندې ئې ډېر ښکلے طنز کړے دے او د هغوي د اصلاح پوره پوره کوشش ئې کړے دے. لکه دا شعرونه اوسنجوئ.

"ښنبئ زردارو وېنې ښنبئ په ککرو کښې
که قانون دے خو بې وزله له قانون دے"[52]

یا دا شعر:

"ګداګي یو لوبوي او ګډوي مو
د اغیارو په لاسونو کښې راګېر یو"[53]

یا دا چې:

"دلته چې کوم د سربرې خلق دي
خو هم هغه سرونه پرې خلق دي"[54]

یا دا شعر:

"هغه زمونږه په تختونو باندې ناست دي
هغه چې ورې د غرغرې خلق دي"[55]

یا دا شعر:

"چې د سره پورې سر نشته ملګرو
دا بې سره په ښتې مونږه ایښې تاج دے"[56]

* په خاوره، ښار، وطن او نړۍ په حالاتو طنز:

بنیادم چې کوم ځاے زېږیدلے وي خړپوسي ئې کړې وي هغه خاوره ئې خوښه وي. خاوره په معنی د زمکې، وطن او ملک هم پکارولې شي. په هر انسان هغه خاوره، کلے، ښار او وطن ګران وي. چې د دهٔ خوارهٔ ښنبو او کار روزګار پکښې وي. خېبر پختونخوا د پښتنو د اوسېدو ځاے دے په ټولو پښتنو دا ډېره ګرانه ده. ټولو شاعرانو د دې خاورې سره ډېر عقیدت لرلے دے. ډاکټر اباسین یوسفزے د دې خاورې په حقله داسې رقمطراز دے.

"ځلور قونجه دنیا کښې په ما ګرانه ده دا زمکه
دا ځکه چې سلطانو کښې سلطانه ده دا زمکه
دا هم ده چې بې شمېره ملغلرې لرې تل کښې
دا نه ده چې په تله کښې ارزانه ده دا زمکه"[57]

خو که هر څه دا زمکه، دا خاوره او وطن د بې شمېره قېمتي او ناویاته ملغلرو نه ډک دے خو بیا هم ځوک د دې په حال ترس نه کوي هیڅ څوک ئې غم خوار نشته. د دې په واکمنو ئې داسې طنز کړے دے.

"دریابه دا زمونږ په خاوره باندې څه شوي دي
چې په ناکرده ګناه لوئې او واړۀ سوزېږي"[58]

یا دا شعر چې د دې خاورو په هر وګړي که هغه لوئے دے که وړوکے، دهقان دے او که خان دے، که غریب که مالدار په ټولو ئې طنز کړے دے وائي چې دا وطن او دا خاوره ډېره زرخېزه ده خو افسوس دلته هیڅ څوک شعور نه لري.

"دې زمونږ خاورې په سرۀ زرغونول خو
نه په خان کښې شعور نه په دهقان کښې"[59]

د دې خاورې کۀ سمه ده که غر که کلے دے که ښار هر یو ځاے ئې بېلا بېل، قېمتي او نایابه ملغلرې لري خو څوک خېرخواه نشته ځکه نو فضل سبحان عابد هم دغه خبره د طنز په شکل کښې کړې ده.

"په دې وطن کښې اخر څه نشته دے
ګټه د سمې که د غرۀ نشته دے"[60]

زمونږ وطن که هر څه د سرو کان دے. جنت جنت سیمه ده. ښکلاګانې دي خو دلته هر هغه څه او شول چې د نړۍ په یو ګوټ کښې چرته هم نه دي شوي. اورونه بل شوي دي. پښتانه بې ګناه ووژلې شول. د جنت جنت وطن نه قتل ګاه جوړه شوه. په دې ټولو ئې داسې طنز کړے دے.

"د پښتنو نسل کښې ئې اوکړه
په پښتونخوا باندې راخور اور دے"[61]

یا دا شعر:

"مونږ چې د لوږې نه مرۀ کېږه پکښې
څه که د سرو د کان په کومې کښې یو"[62]

یا دا شعر:

"د رڼا نه وینې څاڅي په دې ښار کښې
په رڼا کښې د زخمونو نمائش دے"[63]

یا دا شعر:

"قتل گاه ده د سرونو نمائش دے
پښتونخوا کښې د مرګونو نمائش دے"[64]

زمونږ سیمه، خاوره، ښار او وطن د مینې او امن علامت منلے شوي او یاد شوي دي. خو دلته چې اوس کوم حالت جوړ کړې شوي دي په پښتنو او پښتونخوا باندې په زور داسې کړکیچن حالات راوستلے شوي دي. امن ئې د دې ځاې خراب کړے دے په دغه ئې هم طنز کړے دے.

"نوره ټوله دنیا غېږه د امن
زمونږ کور کښې د جنګونو نمائش دے"[65]

یا دا چې:

"خدایه مونږ خو په جنت وطن کښې اوسو
په جنت کښې ښنګ د هر ضرورت بیاج دے"[66]

په دې سیمه چې کوم بد وخت راغلے وو خصوصاً په سوات کښې چې کومې ښکلاګانې په بمونو بارودو والوځولې شوے او هیڅ چا ئې نه تپوس وکړلو نه ئې چا غندنه وکړله په دغه ئې هم نیوکې کړې دي.

"دریابه چا تار تار کړلې په څه او ولې
زما د سوات د ګل بڼونو د رنګونو جامې"[67]

د دې وطن د مشرانو چارواکو او واکمنو په درغلۍ، بې پرواهۍ او غفلت ئې هم طنز کړے دے چې د دې وطن ته راپېښو کشالو او مسئلو ته ئې هیڅ پاملرنه نه ده کړې.

"په دے ملک کښې عجیبه غوندے رواج دے
د بادشاه په لاس کچکول د احتیاج دے"[68]

یا د کشمیر مسئلې ته چا په اتیا کالو کښې هیڅ توجه نه ده ورکړې په دغه حواله ئې طنز داسې کړے دے.

"ښنګه به لاړه شي خبره مخکښې
شوي خبرې په کشمیر کېږي"[69]

خوږ وطن که هر څه موږ شته من او یو یاد ملک دے خو څوک ئې پرده دار نشته ځکه د دې ملک په وزیرانو، بادشاهانو او اختیار مندو طنز کړے دے.

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"زما وطنه خداے دي مل شه
ستا خو سودا د هر وزير کيږي"[70]

د دې وطن په سودا کښې په سامان کښې غرض دا چې په هر څه کښې ګډون باندې هم طنز کوي دلته هر وګړے غل دے. هر يو کس په وهنه کښې پروت دے.

"که ستا مينه نه خالص نه ده نو ګرم نه ئې
دے وطن کښې خو په هر څه کښې ګډون دے"[71]

لکه دا شعر:

"د محبت نه پاکستان جوړ شوے
هر يو سړي پکښې وهنې اوکړې"[72]

ډاکټر درياب نه يوائې د دې خاورې، ښار، صوبې او وطن په ناوړو طنز کړے دے بلکې هغوي د نړۍ په هر ګوټ کښې چې ظلم کيږي په هغې ئې نيوکې کړې دي لکه د کابل په حالاتو طنز اوګورئ.

"چې مستقبل ئې د بل لاسو کښې دے
څنګ نو حال به د کابل سم شي"[73]

* په ملا، شيخ او زاهد طنز:

د نن وخت ملا، شيخ، زاهد، ولي او که امام دے خو بعضې بعضې پکښې داسې کارونه اوکړل چې دغه سپېځلي او پاکه نامه ئې ګنده کړله. ملا به په ټولنه کښې او په خاص توګه په پښتنه ټولنه کښې ډېر درناوي لرلو. اوس خو ورته خلق نه عزت ورکوي او نه درناوي. هم دغه حال د شېخانو دے. په دې ټولو ئې بلها د طنز غشي ورولي دي. لکه دا اشعار اوسنجوئ. چې د ملا، شيخ، زاهد او د حاجي کردار ئې څنګ کړلے دے.

* په حاجي طنز.

"يو ګډه کوي په هر څه کښې دريابه
بل د هر حاجي په تله کښې پارسنګ دے"[74]

* په ملا طنز:

"د عاميانو نه ګيلې کول عبث دي
اتفاق په مينځ کښې نشته د مليانو"[75]

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

یا دا شعر:

"ملا پرې لاس وهي د دم په غرض
هر یو سرے پکښې خپل کار اوباسي"[76]

یا دا شعر:

"محبت چې د ګناه په تله تلي
دا ملا خانه خراب دے خونه ړنګ دے"[77]

* په شېخ طنز:

"ما خو ته زبرګ د زماني ګڼلي
شېخه کاني دي په تسبو کښې اوکړي"[78]

یا دا شعر:

"چې یوه ذره بدلون پکښې رانغلو
د شېخانو په مونځونو کښې څه چل دے"[79]

لکه دا شعر:

"دا شېخان د ګوټ پیرې د څه خبر دي
خومره اجر ستا د مخ د تلاوت دے"[80]

* په قاري او امام طنز:

"یوې ماشومې د جماعت سبق نه سر ټکوو
ژړل ئې نه تله وې استاد مې اننګې رانیسې"[81]

یا دا شعر:

"تشخص مو نیلامېږي ورته ګورو
په پټکو او دستارونو کښې راګېر یو"[82]

* په ملا او شېخ غبرګ طنز:

"خوک به خاورې مینه اوکړي
چې ملان وي چې شېخان وي"[83]

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

* په زاهد او ولي طنز:

"د وريا په جامونو کښې بربنډ دے
که ولي دے که زاهد دے که امام دے"[84]

* په عصر او د نن وخت په حالاتو طنز:

پښتونخوا کښې خصوصاً او په ټول ملک کښې عموماً داسې د ويرې، ترهې او تباهۍ حالات راغلي دي چې يو انسان هم محفوظ نشته. پښتانۀ کۀ مخکښې په امن، خوشحالۍ او سوکالۍ سره ژوند تېرولو خو څکه چې په دې صوبه او ملک کښې حالات سازګار وو. اوس خو هر سړے ځان وژنې ته جوړ شوے دے. هر سړے کرې کور دے. ويرې ترهې اخستے دے. چار چاپېره د تربګنۍ اور بل دے د ژوندون نه دوزخ جوړ شوے دے. خلق په ژوندون باندې ستومانه شوي دي. هر سړے د بې خسۍ او بې کارۍ په غضب کښې اموخته دے په دغه ناوړين حالاتو ئې بلها طنز کړے دے لکه داسې.

"ور وګړے ځان وژنې ته جوړ شوے
هر وګړے د ټکې ټکې محتاج دے"[85]

يا دا شعر:

"د تېښتې لاره ګورې کډه کوې
هر يو سړے دے کريکور اور دے"[86]

يا دا شعر:

"وخته چې ښکر دې شکريه ادا کړم نه پوهېږو
تا په مونږ لے په لے په سر کورونه اوګرځول"[87]

يا دا شعر:

"وي به له امنه د چا
زمونږ له جنګه دے ژوند"[88]

يا دا شعر:

"د وختونو د زوړندو تورو لاندې
بې حسۍ راخملولي يو پراتۀ يو"[89]

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

د دې وطن حالات ورځ په ورځ بدتر کيږي او زمونږ د صوبې حالات ښه کيدل خو د خوب ليدل دي پرهرونه دي هر سړے ځان وژني ته جوړ شوے. يو کس چرته پاک نشته ژوندون په دې دنيا دوزخ دے. داسې ښکاري لکه اور له چې مونږ پيدا يو او اور مونږ له پيدا دے په دغه ټولو حالاتو داسې طنز کوي.

"حالاتو داسې خيرن کړي يو چې
يو سړے په مونږ کښې پاک نشته"[90]

يا دا شعر:

"دريابه لويه بې حسي په هر سړي خوره ده
زۀ د احساس د پرهرونو قيصې چا ته اوکړم"[91]

يا دا شعر:

"د غوښو بوي محسوسوئ او کنه
مونږه په اور کښې مزلونه کوو"[92]

يا دا شعر:

"د غربت په ګناهونو کښې ککړ يو
د ژوندون په دوزخونو کښې راګېر يو"[93]

يا دا شعر:

"د مرګ نه پس نه وي پرې پوهه يمه
خو د ژوندون په دوزخونو باندې پوهه نه شوم"[94]

"د پښتنو پوښتنه چا نه اوکړم
په پښتونخوا ولې اورونه اوري"[95]

د پښتنو په عقل خدائے خبر چې څه شوي دي. پښتون به عمر له دهوکه کيږي غوليږي به شرميږي به. په خوږه خوږه خبرو پرې خلق بلها ناجائزه کارونه کوي خو چرته هوښيار نه شولو هغه د ډاکټر اقبال شاکر خبره.

"خلقو زمونږ په سړيتوب پورې خندا کړې ده
خلقو زمونږ نه په خوږه خوږه کښې کار اخستے"[96]

هم دغسي ده پښتون د شرافت او سرېتوب له وجې خلقو دهوکه کړے دے. خو پښتون چرته د عقل نه کار نه دي اخستې.

"ډزې په مونږ باندې زمونږه د کالۀ شوي دي
خداے زده زمونږه په عقلونو باندې څه شوي دي"[97]

د پښتون د عقل پورې کله کله بنده له خندا هم ورشي او ژړا هم. اباسین یوسفزے په دغه حواله یو ډېر معتبر شعر رامخې ته کېږي.

"مدام چې ناست په کومه ځانګه ئې هم هغه ریبي
پښتونه دا دریکښې ډېر د عقل کار پروت دے"[98]

* په عامو وګړو طنز:

نن انسان چرته هم په نظر نه راځي. د انسان نه وحشي جوړ شوے دے په کائناتو کښې تر ټولو غوره انسان دے خو د نن انسان باندې هر ځاے تنقیدونه کیږي. ستر شاعر انسانیت رحمان بابا داسې وئیلي دي.

"ته په اصل کښې سړے ئې ښاروے نه شي
د چارپایو چارې مه کوه دوه پاله"[99]

خو دغه خبره ډاکټر دریاب د طنز په ژبه کښې داسې کوي.

"په کائناتو کښې د هر څه نه انسان ښکلے دے
خو د دې دور د انسان نه خو حیوان ښکلے دے"[100]

یا دا شعر چې اباسین یوسفزے وائي چې د انسان نه وحشي جوړ شوے دے او اوس دنیا یو ځنګل دے لکه څنګه چې پخوا خلق په غارونو کښې د ګډو بیزو سره یو ځاے اوسېدو.

"انسان ته په کښې د خلق په وحشي په نظر ګوري
دنیا هغه ځنګل دے لکه وړاندې څنګه وۀ"[101]

هم دغه شان په انسان ئې داسې طنز کړے دے چې په ټوله نړۍ کښې یو انسان نشته چې انسان وي چې سړے وي او سرېتوب پېژني. د بل درد محسوس کړي.

"کوم دے خوک دې یو راوښئي
چې سړے وي چې انسان وي"[102]

یا دا شعر:

"نور په انساني ځنګل کښې نه اوسم
ځمه چرته ډېر لرې غر ګورمه"[103]

یا دا شعر:

"د بل درد محسوسول راپکښې نشته
خو یواځې په ځانونو کښې راګېر یو"[104]

یا دا شعر:

"حالاتو داسې خیرن کړي یو چې
یو سړے په مونږ کښې پاک نشته"[105]

یا دا شعر:

"دریابه اوس کتے شي په پیسه کښې سړیتوب
پخوا خو به دا خلقو په سرو کښې بیاموندو"[106]

یا دا شعر:

"د هغه اولس د زیست به څه معنی اوشي
چې د سپلمې ئې همه وګړي غله شي"[107]

یا داشعر:

"لوے او واړۀ د سپلمنې نه غلۀ یو
د لوے قامي تاوان په کومي کښې یو"[108]

یا دا شعر:

"چې اقدار د سړیتوب ئې چقولي
دغه هغه سړي موندلے لوے خراج دے"[109]

د دې نه سربېره په "بهیر د جمال" کښې په پښتنې ټولنې په هر هغه وګړي د طنز ځرک موندې شي چې خپل اقدار ئې چقولي دي. خپل کلتور، ژبه او تهذیب ئې هېر کړے دے حالانکې پښتانه خو په نړۍ یو یاد او منلے شوے قام دے.

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

"نن کنډري ته کښېنه پاڅه کوي
حالانکې خپله د حجرې خلق دي"[110]

یا دا چې

"څوک چې زمونږه تشخص چقوي
مونږ په هغوي پورې انډول شو یاره"[111]

یو څو نورې هم د طنز نمونې وړاندې کولې شي.

* په تیار خوارهٔ طنز:

"مونږ د وخت منجواران تیار خوارهٔ یو
تل چې بل ته لاس نیولې یو پراته یو"[112]

* د کلي په یارانو طنز:

"د روزګار غمونو ګډه بې خوندې کړه
که مزه نشته د کلي د یارانو"[113]

* په عامو وګړو طنز:

"دلته به کار د لوے لوړه اخلي
دلته کښې نهٔ دے په خبره خلق"[114]

په دغه حواله د خوشحال بابا یو ښکلے شعر ډېر مخې مخې ته کېږي.

"مستحب دي ځینې لرې لرې ګرځي
مست خوشحال سره کوټک دے د ډنبرې"[115]

* د نن وخت په زلمو طنز:

"زه مایوسه د دې دور د زلمو یم
د تیارې د خوراک دې د خانک دي"[116]

* په خان طنز:

"دومره نهر دے خان زمونږ د کلي
نورې د خلې نه د ملنګ اخلي"[117]

* په رقیب طنز:

"زۀ ئې د لاس نبضونه پېژنم چې خومره نر دے
رقیب که هر څومره د برېتو نه زمري رانیسي"[118]

* په بې اتفاقۍ طنز:

"د نفاق پروجنبو متیازاتو
مونږ له برمه پرې ایستلي یو پراتۀ یو"[119]

* په معاملات طنز:

"عباداتو ته مو مه ګوره دریابه
معاملاتو کښې د هر چا نه سپوا یو"[120]

* په بنګله والو طنز:

"زمونږه د جونګړو په تیارو باندې لوے طنز دے
دریابه په بنګلو کښې په اوبۀ کښې رڼاګانې"[121]

* په جدیدیت طنز:

"اثاثه د ثقافت مې واړه لوټ شوه
که اوزار دے او که لوښے که کالے دے"[122]

یا دا شعر:

"پښتنو پرې یوه اوښکه تویه نه کړه
د اقدارو جنازې ئې سرعام ځي"[123]

* په منفي سوچونو طنز:

"همېشه لټوو منفي اړخونه
مثبت سوچ په مونږ کښې نشته مصیبت دے"[124]

یا دا شعر چې:

"مونږ کښې دریابه ټولنیز سوچونه نشته ځکه
دا چې په مونږه اسمانونه د زوال وریږي"[125]

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

* د قول او فعل په تضاد طنز:

"د عمل سره مو ستره دشمني ده
او په خلۀ باندې خو ستورو ته خاته کړو"[126]

يا دا شعر:

"د عمل راکښې دريابه ترے نشته
مېړني يو په دعا او په امين کښې"[127]

* په توهمات طنز:

"زمونږ د روح تطهير هډو له سره نه شي
په مونږ سيورې د غمونو ښه درانۀ شوي دي"[128]

* په وخت طنز:

"هغه شخصيتونه وخت اوس چرته زېږوي شي
د چا په يو نظر چې انقلاب پېدا کېدو"[129]

* منافقت:

"خپل بچي هم اعتماد راباندې نه کړي
مونږ کښې دومره ناروا منافقت دے"[130]

* بل ته سپک کتلو باندې طنز:

"دي خبرې مونږه پاتې د هر څه کړو
دا چې قدر د جذباتو د بل نه کړو"[131]

* په بکره طنز:

"پښتنه چې په نرو جامو کښې وينم
لکه اور چې لګېدلے په بهار وي"[132]

مختصراً "بهير د جمال" که ببلا ببل اړخونه لري خو يوه ستره موضوع ئې طنزيه شاعري ده او په دغه ترخ کښې د پښتنې ټولنې په هر هغه شخص طنز شوے دے چې بې کاره دي. تيار خوارۀ دي. او په معاشرې

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

بوج دي. د دې تحقیق نه دا خبره رامخې ته کیږي چې استاد محترم ډاکټر دریاب په معاشره یو نظر لرلے دے. او هر هغه وګړے چې د معاشرې له پاره ناسور ثابت شوے دے نو هغه او د هغه کردار ئې کړلے دے غندلے دے او د طنز غشي پرې راورولي دي. خو هم په دې غرض چې د معاشرې په کار راشي او اوصلاح ئې هم اوشي.

حوالې

[1] خیال بخاري، ډاکټر، او نور، پښتو اکېډمي لغت، مولفین، پښتو اکیډمي، پېښور یونیورسټي، د مطبوعاتو سلسله نمبر667، اول څل 2019ء/1440ھ، مخ 1185

[2] Sing, Raj kishor, Humour, irony and staire in literature, international Journal of English and literature (IJEL), sanothimi campus, Tribhuon University, Kot mandu, Nepal, Vol 3, Issue, 4 oct 2012, page 68

[3] امن، نورالبصر، په پښتو کښې د خېبر پښتونخوا د ماشومانو د ادبیاتو سماجي او کلتوري مطالعه، مشموله مقاله، د ماشومانو په سندرو او صوتونو کښې د طنز ونډه یوه څېړنه، خورونکي پښتو او د شرقي ژبو څانګه مالاکنډ پوهنتون، جون 2022ء، مخ 330

[4] https.//www. Studiobinder.com/blog/what-is-staire-definition –examples.

[5] خواجه عبدالغفور

[6] افضل رضا ، پروفېسر، مقاله، پښتو شاعری کښې طنز ومزاح مشموله ماهنامه اولس کوئټه، اکتوبر نومبر دسمبر، 1960ء، مخ 48

[7] خټک، فضل میر، پروفېسر، فضلیات، پېښور، اعراف پرنټرز محله جنګي، دریم څل، جولائي 2021ء، مخ 359

[8] اجمل خٹک، پشتو ادب ماضی وحال، کوئٹہ، پشتو اکیڈمی، بلوچستان، 2014ء، ص110

[9] دریاب، علي خېل، ډاکټر، بهیر د جمال، پېښور، اعراف پرنټرز ندیم ټریډ سنټر محله جنګي، س ن، مخ71

[10] همدغه اثر، مخ 169

[11] همدغه اثر، مخ 186

[12] همدغه اثر، مخ 235

[13] همدغه اثر، مخ 169

[14] همدغه اثر، مخ 115

[15] همدغه اثر، مخ 201

[16] خټک، خوشحال خان، دستار نامه، پېښور، حمیدیه پریس، 1991ء، مخ 2

[17] بهیر د جمال از ډاکټر علي خېل دریاب ، مخ 31

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com
Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

[18] همدغه اثر، مخ 203
[19] روغانے، عبدالرحیم، ځوربدلي احساسات، لاهور، حاجي حنیف اینډ سنز، پرنټرز، دویم ځل، مئ 2007ء، مخ 331
[20] خیال بخاري، ډاکټر، او نور، پښتو اکېډمي لغت، مولفین، پښتو اکېډمي، پېښور یونیورسټي، د مطبوعاتو سلسله نمبر667ء، اول ځل 2019ء/1440هـ، مخ 328
[21] بابا، عبدالحمید، دیوان، در او مرجان، از ډاکټر سید انوارالحق، جېلاني، پېښور، کابلي دروازه، یونیورسټي بک ایجنسي، د اشاعت کال نه لري، دویم چاپ، مخ 106
[22] اباسین یوسفزے، الوت، پېښور، حرم پرنټرز جنګي محله، ستمبر 2005ء، اول ځل، مخ 195
[23] بهیر د جمال از ډاکټر علي خېل دریاب، مخ 64
[24] همدغه اثر، مخ 65
[25] همدغه اثر، مخ 85
[26] همدغه اثر، مخ 86
[27] میر حاتم، ډاکټر، پروفېسر، ټپې د پښتون ثقافت ترجماني، پېښور، الاحمد انټر پرائرز، 2024ء،مخ190
[28] بهیر د جمال از ډاکټر علي خېل دریاب، مخ 175
[29] همدغه اثر، مخ 115
[30] همدغه اثر، مخ 105
[31] همدغه اثر، مخ 80
[32] همدغه اثر، مخ 168
[33] همدغه اثر، مخ 64
[34] همدغه اثر، همدغه مخ
[35] همدغه اثر، مخ 65
[36] امن، نورالبصر، په پښتو کښې د خیبر پښتونخوا د ماشومانو د ادبیاتو سماجي او کلتوري مطالعه، مشموله مقاله، د ماشومانو په سندرو او صوتونو کښې د طنز ونډه یوه څېړنه، خورونکي پښتو او د شرقي ژبو څانګه مالاکنډ پوهنتون، جون 2022ء، مخونه 333، 334
[37] دریاب، علي خېل، ډاکټر، بهیر د جمال، مخ 53
[38] همدغه اثر، مخ 138
[39] همدغه اثر، مخ 195
[40] همدغه اثر، مخ 202

AL-AASAR Journal
Quarterly Research Journal
www. al-aasar.com

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

41 همدغه اثر، مخ 208

42 همدغه اثر، مخ 209

43 همدغه اثر، مخ 211

44 اباسين يوسفزے، مرام، پشاور، ايکسپرټ گرافکس، وړومبے چاپ، مارچ 2016ء، مخ 121

45 درياب، علي خېل، ډاکټر، بهير د جمال، مخ 103

46 اقبال شاکر، رېدي رنګي اوبه، دي پرنټ مېن پرنټرز اينډ پبلشرز، اول ځل 2013ء، مخ 128

47 بهير د جمال از ډاکټر علي خېل درياب مخ 143

48 همدغه اثر، مخ 147

49 همدغه اثر، مخ 72

50 همدغه اثر، مخ 149

51 همدغه اثر، مخ 226

52 همدغه اثر، مخ 44

53 همدغه اثر، مخ 187

54 همدغه اثر، مخ 21

55 همدغه اثر، همدغه مخ

56 همدغه اثر، مخ 19

57 اباسين، يوسفزے، الوت، پينځم ځل، 2013ء، مخ 78

58 درياب، علي خېل، ډاکټر، بهير د جمال، مخ 47

59 همدغه اثر، مخ 70

60 عابد ، فضل سبحان، لېونے موسم، مالاکنډ ايجنسي درګۍ بازار، رضا مارکيټ عابد پرنټنګ پريس ، دويم چت، څلورم چاپ، دسمبر 2010ء، مخ 109

61 بهير د جمال از ډاکټر علي خېل درياب، مخ 119

62 همدغه اثر، مخ 90

63 همدغه اثر، مخ 168

64 همدغه اثر، مخ 64

65 همدغه اثر، همدغه مخ

66 همدغه اثر، مخ 19

67 همدغه اثر، مخ 201

*AL-AASAR Journal*
Quarterly *Research Journal*
*www. al-aasar.com*

*Vol. 2, No. 1 (2025)*
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN: 3006-6921

[68] همدغه اثر، مخ 19

[69] همدغه اثر، مخ 68

[70] همدغه اثر، همدغه مخ

[71] همدغه اثر، مخ 122

[72] همدغه اثر، مخ 101

[73] همدغه اثر، مخ 83

[74] همدغه اثر، مخ 226

[75] همدغه اثر، مخ 142

[76] همدغه اثر، مخ 134

[77] همدغه اثر، مخ 226

[78] همدغه اثر، مخ 155

[79] همدغه اثر، مخ 164

[80] همدغه اثر، مخ 226

[81] همدغه اثر، مخ 179

[82] همدغه اثر، مخ 187

[83] همدغه اثر، مخ 112

[84] همدغه اثر، مخ 183

[85] همدغه اثر، مخ 19

[86] همدغه اثر، مخ 118

[87] همدغه اثر، مخ 203

[88] همدغه اثر، مخ 147

[89] همدغه اثر، مخ 64

[90] همدغه اثر، مخ 104

[91] همدغه اثر، مخ 121

[92] همدغه اثر، مخ 163

[93] همدغه اثر، مخ 186

[94] همدغه اثر، مخ 195

[95] همدغه اثر، مخ 167

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

96 اقبال شاکر، رېدي رنګي اوبه، پېښور، دي پرنټ مېن پرنټرز اينډ پبلشرز، اول ځل 2013ء، مخ 140

97 درياب، علي خېل، ډاکټر، بهير د جمال، مخ 46

98 اباسين يوسفزے، غورځنګونه، لسم چاپ، دسمبر 2013ء، مخ 123

99 رحمان بابا، کليات عبدالرحمان بابا، پېښور، دي ويژن پريس، خورونکي رحمن ادبي جرګه پېښور، پينځم ځل، 2018ء، مخ 246

100 درياب، علي خېل، ډاکټر، بهير د جمال، مخ 99

101 اباسين يوسفزے، الوت، پينځم ځل، 2013ء، مخ 198

102 درياب، علي خېل، ډاکټر، بهير د جمال، مخ 111

103 همدغه اثر، مخ 56

104 همدغه اثر، مخ 186

105 همدغه اثر، مخ 104

106 همدغه اثر، مخ 55

107 همدغه اثر، مخ 74

108 همدغه اثر، مخ 90

109 همدغه اثر، مخ 19

110 همدغه اثر، مخ 21

111 همدغه اثر، مخ 80

112 همدغه اثر، مخ 65

113 همدغه اثر، مخ 142

114 همدغه اثر، مخ 200

115 خوشحال ختټک کليات، ترتيب زاهد مشواني، پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، دوهم چاپ، 1387ل/2008ء، مخ 321

116 بهير د جمال از ډاکټر علي خېل درياب، مخ 149

117 همدغه اثر، مخ 212

118 همدغه اثر، مخ 179

119 همدغه اثر، مخ 65

120 همدغه اثر، مخ 85

121 همدغه اثر، مخ 54

Vol. 2, No. 1 (2025)
Online ISSN: 3006-693X
Print ISSN: 3006-6921

[122] همدغه اثر، مخ 92

[123] همدغه اثر، مخ 236

[124] همدغه اثر، مخ 81

[125] همدغه اثر، مخ 204

[126] همدغه اثر، مخ 84

[127] همدغه اثر، مخ 67

[128] همدغه اثر، مخ 46

[129] همدغه اثر، مخ 62

[130] همدغه اثر، مخ 81

[131] همدغه اثر، مخ 85

[132] همدغه اثر، مخ 103